


په ګاونډ كي خلك راټول سوي وو- خان جي، ډاكټر اظهر او ناياب مامي خپلو كي څۀ خبري كولې-



نایاب مامي ووئیل چي موږ د کوڅې په
سر کي ور لګوو چي خلک د هر څۀ څخه په
امان سي او ښوونځي ته لار هم لنډه سي-



خان جي غټور د کوڅې د لمر خاتۀ پر لوري
لګول غوښتل او ګل کاکا قِبلې پر لوري-
هغوئ د يو بل خبره منلو ته تيار نۀ وو



د قِبلې پر لوري لوئ سړک او لمر خاتهٔ ته ښوونځی او بازار دی- خوګل کاکا خبره نه منله په دې کې عابده ترور راغله-



هغې ووئیل چي لمر خاتهٔ پر لوري به غټ ور
ولګوو نو د ښوونځي او بازار لار به لنډه سي۔
او بل لوري ته به بیا یو وړوکی ور ولګوو۔



ټولو د خوشحالۍ څخه ووئیل عابدې
ترور خو ښېخي خبره اسانه کړه- خان جي
او ګل کاکا یو بل ته ورترغاړه سول-



ماشومانو د خوشحالۍ څخه لاسونه وپړقول هغوئ ته د ور له وجې لار لنډه سوه او ښوونځي ته به هم په وخت رسي-



بنيادي پوښتنه

د یوې سیمې وسیدونکي خلک خپلې مسئلې څنګه حل کوي؟

## د لوستلو صلاحیتونه او حکمت عملۍ

| | |
|---|---|
| ږغ پوهنه: | حرکات: زېر، زبر، پېښ |
| د ټکو پانګه: | خلګ، ګاونډ، خَراب، امان، لمر خاتۀ، بازار، وړوکی |
| ژب ښوونه: | بامعني او بې معني ټکي |

## لېولډ ریډر

په یو ټولګي کې د لوستلو د صلاحیت مطابق د ماشومانو مختلف ګروپونه وي- لکه ابتدائي، منځنۍ او د بهترې درجې لوستونکي- د دې صلاحیتونو مطابق د ماشومانو د پاره د لېولډ ریډر په نوم مختلفې قیصې لیکلې سوې دي- د دې لېولډ ریډر متن په رو رو زیات کړل سوی دی- د لېولډ ریډرز بنیادي مقصد ماشومان خپلواکه لوستونکي جوړول دي- د ۲٤ اونیو د پاره د لېولډ ریډر ۸ سېټونه تیار کړل سوي دي- د هر یوه لېولډریډر سېټ د پاره درې اونۍ ټاکلې سوي دي- د هر یو لېولډ ریډر په څیر مخ د ماشومانو د پاره د لوستلو اړوند مهارتونو کړنې ورکړل سوي دي-

د چاپ‌یې پر وخت د دې موادو د هر ډول غلطۍ څخه د پاک ساتلو د پاره په زړۀ پورې کوشش سوی دی- بیا هم کۀ چیرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کې څۀ قسمه غلطي ښکاره سوه نو مهرباني وکړئ په دې اړه زر تر زره د پاکستان ریډنګ پراجېکټ ضلعي یا صوبائي دفترونه خبر کړئ- د دې مرستې د پاره به موږ ستاسو مننه کوؤ-

# استاذانو د پاره لارښووني

د لومړيو درېو مخونو څخه وروسته لاندينۍ تفهيمي پوښتني وکړئ۔

1. د قيصې په شروع کي څۀ کېږي؟
2. ناياب مامي ماشومانو ته څۀ ووئيل؟

د نيمې قيصې څخه وروسته لاندينۍ تفهيمي پوښتني وکړئ۔

1. خلګو په کوڅه کي ور لګول ولې غوښت؟
2. ناياب مامي خلګو ته څۀ مشوره ورکړه؟

د قيصې په پائ کي لاندينۍ تفهيمي پوښتني وکړئ۔

1. عابدې ترور ستونزه څنګه حل کړه؟
2. د دې قيصې نه څۀ سبق ملاوېږي؟
3. قيصه په خپلو ټکو کي واوروئ؟

www.pakreading.org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID). It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government. The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government.

د دې موادو خپرونه د امريکائي خلګو په مرسته د امريکې بين الاقوامي ترقۍ اداري په لاس ممکن سوې ده۔ دا مواد يو ايس ايډ- پاکستان ريډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تيار کړي دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان ريډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نۀ ده چي دا د يو ايس ايډ يا د امريکائي حکومت د نظريې عکاسي کوي-